مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان الله ارینزی ۲۰۲۵/۱۱/۰۵

# افغانستان
# طبیعي، بشري، سیاسی، اقتصادي او تاریخي جغرافیه
## (اوولسمه برخه)

- **4 -- میدان وردک**

**میدان وردک د کابل په لویدیځه خوا کې موقعیت لری. د داکتر مجاور احمد زیار او نورو پوهانو په وینا، پخوا په تواریخو کې د وردیکا، ویهارادک، ویاردک او وردګ/ وردک په نومونو ثبت شوی دی. وردک/ وردک پخوا یوازې د خلکو نوم و؛ خو وروسته سیمه هم په همدې نامه یاده شوې ده. ویهارادک په سانسکریت کې د بتانو ځای/ بوتتون / بتکده معنی ورکوی. وردک د امیر شیر علي خان له واکمنی راهیسې د کابل او یو وخت هم د لوګر ولایتونو برخه و؛ خو په کال 1343 هـ ش کې، د خلکو د ستونزو د کمولو د پاره، د افغانستان په اداري جوړښت کې د یو ځانګړي ولایت په توګه جوړ شو. د استاد رباني په وخت کې د میدان نوم هم ورسره یو ځای او دا ولایت ( میدان وردک) شو.**
**وردک km10348 مربع پراخوالي او نهه اداري واحدونه لری او د سمندر له سطحې څخه په منځنی توګه m2210 جګ پروت دی. د پغمان غر د دې ولایت په شمال او د سیداباد او چک تیت غرونه یې په جنوب/ سهیل کې پراته دي. سنګلاخ، سرچشمه، کجاو، جلګه، چک او ګوربت( فصلی) د دې ولایت سیندونه دي. افغان حکومت په کال 1317 هه ش( 1938م) کې د جرمني انجنییرانوپه مرسته، د چک اوبو ته یو وروکی بند تړلی، چې اوس پاک کېدن او د توربینونو بدلولو ته اړتیا لری.**

**دا ولایت سوړ اقلیم لري. کلني ورښت چې پخوا د 300 – 400mm تر منځ او د اوني په کوتل کې 800mm و، اوس د سترو وروستنیو اقلیمی بدلونونو په توسن، ډېر کم شوې او خلک له یوې اوږدې وچکالۍ څخه ځوربېږي. پخوا په اوړي کې تودوخه د 20- 33 تر منځ وه؛ خو اوس د هماغه بدلونونو له امله جګه اټکل کیږي. ژمي مهال دا شمېرې تر منفي 0- 15 پورې هم ښکته ځي .**

- **وری، لیمڅی، تغر، ژر غوري، کورت، کچالو، غنې وریجې او منې د دې ولایت مهم حاصلات دي. اوس د وردګو د وریو، تغرو، لیمڅیو او وریجو حاصل دومره لږ شوی، چې صفر ته نژدې کیږي. دواړه بهسوده د کچالو په تولید کې لومړی ځای لری. په دې ولایت کې کرنیزه زمکې او اوبه لږ دی، له همدې امله ډېر خلک غزني، کابل او ځینو نورو ولایتونو ته کډه شوې او ډېر ځوانان د کار د پاره ایران ته ځي**

- په نرخ ولسوالۍ کې د التغای غونډۍ، د سیداباد په شنیز کې د پتنک غنډۍ او په تنګي کې د خواجه اسمعیل شنیزي مزار، د جغتو کره بی بی او د جلګي ولسوالی نهه برجه کلا د دې ولایت مهم تاریخي ځایونه دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

| شمېر | د ولایت نوم | اداري درجه | مساحت په$km^2$ | ختیځ طو ل البلد | شمالي عرض البلد | د سمندر له سطحي څخه لوړوالی په m | نفوس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ټول ولایت | | 10384.3 | 68-10 | 34-50 | 1800 | 558400 |
| 1 | میدان ښار | مرکز | $351km^2$ | 68-47 | 34-25 | 2225 | 38500 |
| 2 | جلریز | ولسوالی-2 | 1139 | 66-39 | 34-28 | 2375 | 50700 |
| 3 | نرخ | و-3 | 480/ | 68-48 | 34-22 | 2200 | 54500 |
| 4 | چك | و -2 | 1192 | 68-35 | 34-06 | 2200 | 80700 |
| 5 | دایمیرداد/ جلګه | و -3 | 1357 | 68-18 | 34-13 | 2450 | 29700 |
| 6 | د بهسود مرکز | و -1 | 2198 | 67-54 | 34-21 | 2975 | 114100 |
| 7 | // لمړی برخه | و -2 | 1327 | 68-15 | 34-30 | 2950 | 35400 |
| 8 | سیدآباد | و -1 | 1033 | 68-43 | 34-59 | 2100 | 111100 |
| 9 | جغتو | و- 2 | 622 | 68-23 | 34-48 | 2500 | 43700 |

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی احسان الله اریزی د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ